# ډېره اسماعيل خان: د تحريک طالبان پاکستان مهم مشر وژل شوی

دډېره اسماعيل خان په کوټ عيسی سيمه کې دامنيتي ځواکونو په عملياتو کې دټي ټي پي يو مهم ترهګر وژل شوی دی ـ

**امنيتي ځواکونو د پټو معلوماتو په اساس د ټي ټي پي ترهګر تعقيب کړ او هغه يې محاصره کړ، د ډزو په تبادله کې ترهګر ځای پر ځای ووژل شو ـ وژل شوی ترهګر د تحريک طالبان پاکستان مهم غړی و چې په ګڼو ترهګريزو فعاليتونو کې يې لاس درلود ـ د درابان سيمې د تروريستي مهم مشر وژل يقيناً د ټي ټي پي لپاره يو لوی ګوزار دی ـ**

ټي ټي پي د خپلو وژل شوو ترهګرو نه د لاتعلقي اظهار کړی او د قبلولو نه ويرېږي، په داسې حال کې چې دولتي رسنيو هم د ترهګرو د ترويج مخه نيولې ده. وبه ګورو چې ټي ټي پي پخپله دا مرګونه مني او يا غلي پاتې کيږي او نوره بزدلي او منافقت ثابتوي ـ